د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د (۱۳۰) تنو کارکوونکو لپاره روزنیز ورکشاپ پیل شو

شنبه د ۱۴۰۵ کال د وري ۲۱ مه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ډیټابیس او معلوماتو د سیستم ریاست په نوي برېښنایي سیسټم کې د محاسبې او تادیاتو په برخو کې د (۱۳۰) ولایتي او مرکزي ریاستونو کارکوونکو لپاره لس (۱۰) ورځینی روزنیز ورکشاپ پیل کړ.

د دې ورکشاپ د پرانیستې په پروګرام کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، یو شمېر نورو محترمو رئیسانو، آمرینو او اړوندو کارکوونکو حضور درلود.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د نبي کریم صلی‌الله علیه وسلم د مبارکو احادیثو په رڼا کې د مسئولیت، امانتدارۍ او خلکو ته د خدمت په اړه مفصلې خبرې وکړې او وې ویل چې د زرګونو مستحقو کسانو د خدمت مسئولیت زموږ پر غاړه ایښودل شوی او دا د الله تعالی جل جلاله یو لوی امانت دی.

هغه زیاته کړه چې خلکو ته خدمت کول، په ځانګړې توګه د یتیمانو او معلولینو ملاتړ او د هغوی پالنه، یوازې یوه اداري دنده نه ده؛ بلکې عبادت او د الله تعالی د رضا او د آخرت د نېکمرغی وسیله ده. که یو څوک سپارل شوی مسئولیت په سمه او صادقانه توګه ترسره نه کړي، په دنیا او آخرت کې به له ناوړه پایلو سره مخ شي.

محترم شیخ صاحب وویل چې دغه قشر پر مسئولینو او کارکوونکو باور لري او باید د سهل‌انګارۍ او بې‌پامۍ له امله د هېڅ وګړي حق ضایع نه شي. هغه له کارکوونکو وغوښتل چې خپل کاري وخت په سمه توګه وکاروي، سپارل شوې چارې په دقت او جدیت ترسره کړي او خپلې مسلکي او اداري وړتیاوې پیاوړې کړي، څو په اړوندو ولایتونو کې یتیمانو او معلولینو ته د صادقانه او اغېزمن خدمت مصدر وګرځي.

محترم مولوي کلیم‌الله افغان په دې پروګرام کې وویل چې هر کال د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته میلیاردونه افغانۍ بودجه ځانګړې کېږي، څو یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو ته ورکړل شي. هغه زیاته کړه چې دغه وزارت، له نېکه مرغه، مرستې او مساعدتونه مستحقو کسانو ته په شفافه توګه او د خپل کاري طرزالعمل مطابق ورکوي.

د مالي او اداري چارو محترم عمومي رئیس وویل چې موږ د هرې افغانۍ په برابر مسئول یو. د تأدیاتو او محاسبې ځانګې او نوي برېښنایي سیستم له لارې اوس په ۱۳ ولایتونو کې یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو وګړو ته نغدي مرستې ورکول کېږي او په دې سیستم کې د اختلاس او جعل هېڅ امکان نشته.

همدارازمحترم مولوي کلیم‌الله افغان له کارکوونکو وغوښتل چې خپل ویده استعدادونه راویښ کړي او د هېواد د ودې او پرمختګ لپاره ترې ګټه واخلي. هغه ټینګار وکړ چې د ملي بودجې په مصرف کې باید سپما وشي او کارکوونکي دې په بشپړه امانتدارۍ، هوډ او ژمنتیا سره خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي او خپلې زده‌کړې په اړوندو ولایتونو کې په عملي توګه پلې کړي.

د ډیټابیس او معلوماتو د سیستم رئیس محترم الحاج ملا رحمت‌الله خالد د محاسبې او تأدیاتو ځانګه یوه له مهمو او اساسي ځانګو څخه وبلله او د محاسبې او تأدیاتو د پروسې د اهمیت او څرنګوالي په اړه یې خبرې وکړې.

هغه زیاته کړه چې اوس مهال د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو کسانو ته میاشتني نغدي مساعدتونو د محاسبې او تأدیاتو برخې د نوي برېښنایي سیستم په کارولو سره ورکول کېږي. د دې سیستم په پلي کېدو سره د مرستو د ورکړې په بهیر کې لا ډېره روڼتیا او دقت رامنځته شوی دی.

همداراز د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود د دې ورکشاپ په دوام کې قرآن کریم د مبارکو آیتونو او نبوي صلی الله علیه‌وسلم د احادیثو په رڼا کې د یتیمانو د حقوقو په اړه وینا وکړه او وې ویل چې د یتیمانو حقوق باید په بشپړه او سمه توګه هغوی ته ورسېږي او په دې برخه کې هېڅ ډول سهل انګاري ونه شي.

هغه له کارکوونکو وغوښتل چې د خپلو دندو په ترسره کولو کې نوښت وښیي او په امانت کې له هر ډول خیانت څخه ډډه وکړي.

به (۱۳۰) تن از کارمندان وزارت امور شهداء و معلولین ورکشاپ آموزشی آغاز گردید

شنبه ۲۱ سنبله ۱۴۰۵

ریاست دیتابیس و سیستم معلومات وزارت امور شهداء و معلولین، ورکشاپ آموزشی ده (۱۰) روزه را در بخش محاسبه و تأدیات در سیستم جدید الکترونیکی برای (۱۳۰) تن از کارمندان ریاست‌های مرکزی و ولایتی آغاز کردند.

در برنامه افتتاحیه این ورکشاپ، محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی معین وزارت امور شهداء و معلولین، محترم مولوي کلیم الله افغان رئیس عمومي مالی و اداری، محترم مولوی شاه محمد دوست رئیس دفتر مقام وزارت، رؤسای محترم، آمرین و کارمندان بخش های مربوطه حضور داشتند.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی در پرتو احادیث مبارک نبی کریم صلی‌الله علیه وسلم، پیرامون مسئولیت، امانتداری و خدمت به مردم سخنان مفصل ارائه نموده، گفت که مسئولیت خدمت به هزاران تن از افراد مستحق بر عهدهٔ ما گذاشته شده است.

معین محترم امور شهداء و معلولین افزود که خدمت به مردم، بخصوص حمایت و رسیدگی به ایتام و معلولین، تنها یک وظیفه اداری نیست، بلکه عبادت و وسیلهٔ برای کسب رضایت الله متعال جل جلاله و سعادت آخرت است و اگر شخصی مسئولیت سپرده‌شده را به‌درستی و صادقانه انجام ندهد، در دنیا و آخرت با پیامدهای ناگوار مواجه خواهد شد.

محترم شیخ صاحب گفت که این قشر بر مسئولین و کارمندان اعتماد دارد و نباید در اثر سهل‌انگاری و بی‌توجهی، حقوق هیچ فردی ضایع شود. وی از کارمندان خواست تا وقت کاری خود را به‌درستی استفاده کرده، در انجام امور محوله دقت و جدیت داشته باشند و توانایی‌های مسلکی و اداری خویش را تقویت کنند تا در ولایات مربوطه، مصدر خدمت صادقانه و مؤثر به ایتام و معلولین شوند.

در این برنامه محترم مولوی کلیم الله افغان گفت: همه ساله میلیاردها افغانی بودجه به وزارت امور شهداء و معلولین اختصاص می‌یابد تا به قشر ایتام، خانم‌های بیوه و افراد دارای معلولیت پرداخت شود، که این وزارت خوشبختانه کمک‌ها و مساعدت‌ها را به‌گونه شفاف و مطابق طرزالعمل کاری خویش به مستحقین پرداخت می‌نماید.

وی تأکید کرد: امانتی که به ما سپرده شده است، مسئولیت بزرگی بر دوش ما گذاشته و در برابر هر افغانی آن مسئول هستیم. از طریق بخش تأدیات و محاسبهٔ سیستم جدید الکترونیکی، اکنون مساعدت‌های نقدی برای ایتام، خانم‌های بیوه و افراد دارای معلولیت در ۱۳ ولایت پرداخت می‌گردد و در این سیستم هیچ‌گونه زمینه برای اختلاس و جعل وجود ندارد.

همچنان محترم مولوی کلیم‌الله افغان از کارمندان خواست تا استعدادهای خفته خویش را بیدار ساخته و از آن در راستای رشد و پیشرفت کشور استفاده نمایند. وی تأکید کرد که در مصرف بودجه ملی باید صرفه‌جویی صورت گیرد و کارمندان با تمام امانت داری، عزم و تعهد کامل، به آموزش‌های خویش ادامه داده و آموخته‌های خود را در ولایات مربوطه به‌گونه عملی تطبیق نمایند.

محترم الحاج ملا رحمت الله خالد رئیس دیتابیس و سیستم معلومات، بخش محاسبه و تأدیات را یکی از مهم‌ترین و اساسی‌ترین بخش ها دانسته و پیرامون اهمیت و چگونگی پروسه محاسبه و تأدیات صحبت نمود.

وی افزود که در حال حاضر، پرداخت مساعدت‌های نقدی ماهانه به ایتام، خانم‌های بیوه و افراد دارای معلولیت در چندین ولایت کشور، از طریق بخش محاسبه و تأدیات سیستم جدید الکترونیکی انجام می‌شود که با تطبیق این سیستم، شفافیت و دقت بیشتر در روند پرداخت‌ها تأمین گردیده است.

در تداوم این ورکشاپ، محترم مفتی عبدالاحد مسعود رئیس دعوت و ارشاد، در پرتو آیات مبارک قرآن کریم و احادیث نبوی صلی‌اللهعلیه‌وسلم، پیرامون حقوق یتیمان سخنرانی نموده و تأکید کرد که حقوق یتیمان باید به‌صورت کامل و درست به آنان رسانیده شود و در این زمینه هیچ‌گونه کوتاهی صورت نگیرد.

موصوف همچنان از کارمندان خواست مسئولیت سپرده‌شده را با اخلاص، صداقت و احساس مسئولیت انجام دهند، در انجام وظایف خویش ابتکار به خرج داده و از هرگونه خیانت در امانت خودداری نمایند.